ولي الله ملکزی

۲۰۱۷/۰۶/۰۴

# له جګړې، کرکه

مینه احساس دی، عاطفه ده. مینه اراده ده، ولوله ده. مینه ژوند دی، هڅه ده او سکون دی. مینه ساز دی او آواز دی. مینه هیله ده، ارزو ده. مینه طرب دی او مطرب دی. مینه عزم دی، تکل دی. مینه وفا ده، هم وصال دی. مینه ځان دی، هم جانان دی. مینه قیام دی، هم پیغام دی. مینه ښکلا ده، هم ځلا ده. مینه حق دی، هم حقیقت دی. مینه ډیوه ده، هم رڼا ده. مینه د فطرت غوښتنه او د کائناتو غبرګون دی. د تېر په پنجره کی چي کوم بندیوان زړه له مینی او سوز خالي وي، نو هغه ته بیا د غوښي ټوټه نه، بلکي توره بکره ویل کیږي. او د شاعر په ژبه، څوک چی له مینی منکر وي، هغه ته بیا د جمال کافر ویل کیږي. او بلاخره مینه عقیده ده او عبادت دی ځکه چي ۷۶ کرته په قرانکریم کی د حب (مینی) یادونه شویده.

خو د مینې ستر رقیب او نه پخلا کیدونکی غلیم، بیا کرکه ده. کرکه یو داسی طبیعي او هیجاني احساس دی چی له انسان سره یوځای پیدا او وده کوي. د ارواه پوهانو په عقیده د ژوند په کړلیچونو کی د کرکي درلودل او کارول کله ناکله اړین هم وي. مثلا کله چي خواړه خراب بوئ یا بده مزه ولري، نو مونږ ورڅخه کرکه کوو، لاس نه ور وړو او حتی کوچنیان یی له خولی غورځوي. خو دا فطري حس په ټولو انسانانو کی په یوه پیمانه او یو رنګ نه وي. ډیر کله چي مونږ د لمړي ځل لپاره له یو چا سره مخ شو نو د هغه یا هغي په هکله د زړه په هنداره کی یوه تابلو انځور او د حواسو په مرسته ورسره مینه اوعلاقه پیدا کړو چي بیا په یوه تلپاتي خاطره بدله شي. خو بالعکس کله په هماغه شیبه کی زمونږ په زړه او ذهن کی د کرکي د سونامي داسی یوه څپه را پورته شي چي د درناوي، مرستي او اړیکو ټول تارونه له ځان سره لاهو او تس نس کړي.

د کرکي د پیدا کیدو بنسټیز اسباب د ایمان کمزوري، ظلم، حق تلفي، ځان غوښتنه، په نورو د ځان لوړ ګڼلو روحیه، مادي کتې، شهواني غریزې، پخپل ځان بی باوري، په نورو بدګماني، د شخصیت او کرکتر پیکه توب او هرچا ته د شک په سترګه کتل دي. دا عوامل د همزولو، خپلوانو، ګاوندیانو، هم صنفانو او د کار او دفتر د همکارانو ترمنځ کرکه زیږوي، د واټن سبب ګرځي او انسان ذهني کشمکش ته هڅوي.

ټولنپوهان او روانشناسان باور لري، کوم خلک چی د کرکي دا کرغیرن احساس یی افراطي او له سرو څراغونو تیر شي، نو بیا د هغوئ غټه بدمرغي دا وي چي خپل ځان ته نه متوجه کیږي او په مزه مزه یی دا حس لمړی د انزوا او ګوشه نشینۍ خوا ته بوزي او وروستي پړاو یی ځان وژنه او انتحار ته مخه کول وي.

کله چي رسول الله (ص) خپل دوه تنه نژدی ملګری ابو موسی اشعري او معاذ بن جبل یمن ته د دعوت لپاره استول نو په مخه ښه کی یی ورته وویل: «بَشرا و لا تنفرا، یسرا ولا تعسرا» خلکو ته زیری ورکړئ او پام چي د نفرت او کرکي خبرې او عمل ونکړئ. له خلکو سره آساني وکړئ او له سختی ځان وژغورئ. ددی مبارک نبوي حدیث څرګند مفهوم همدادی چي عقیده مند، هیڅکله عقده مند نه وي. ځکه د ټولنی د افرادو ترمنځ ترټولو خطرناکه او کرغیرنه کرکه هماغه ده چی انګیزه یی د نورو په وړاندی د خپلي ژبې، مذهب، سیمي، قوم، او منصب غوره ګڼل وي. دا ډول کرکه خپلمنځي اړیکی په یو زهرجن چاپیریال بدلوي او د متقابلي همکارۍ او خیربښېګنې روحیه له زیږدو وړاندی وژني.

هغه څوک چي نن سبا ځمونږ په هیواد او شاوخوا سیمه کی د خلافت، امارت، شهادت او جنت شعارونه زمزمه کوي او د حورو او غلمانو خوبونه ویني، د کرکي درجه یی د جنون هغه حد ته رسیدلی چي د قران پدی سپیڅلي میاشت کي د خپل ځان په وژلو سره، د بیګناه روژه تیانو ویني تویوي او د خپل دین د تقدس سپکاوی کوي، همدا وجه ده چي نه مو جومات په امن دی، نه حجره او نه هم جنازه. د دوئ د کرکي توری لوخری تر آسمانه رسیدلي او پدغه سره بتئ شوی مځکه، له سلګیو، زګیرویو او ښیرو پرته بل څه نه اوریدل کیږي. نو راځی چي د کمزوري ایمان او برائت په عنوان، لدی کرکجنی جګړی څخه همدومره کرکه وکړو، څومره چي دا تور مخي جګړه ماران له سولی کرکه لري.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنی د لیکنیزی بنی پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ